سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۴/۰۶

# چاپلوسی څه شی دی؟

په اوسنی وخت کی د ټولنیزو رسنیو له لاری دا خبری ډیری اوریدلی کیږی چی جمهور رئیس له څلورخو څه چی له شپږو واړو اړخونو نه چاپلوسانو نیولی دی. اجرائیه رئیس ته چاپلوسان دا وخت نه ورکوی چی خپلو اصلی ورځنیو چارو ته ځان ورسوی، فلانی وزیر، والی، معین، رئیس، قوماندان، وکیل، ولسوال، مدیر او بل او بل ټول د چاپلوسانو د لاسه کار ته نه دی وزګار. د دی وینا وو سر سمی داسی ویناوی هم اوریدلی کیږی چی دغه ښاغلی چارواکی د دی چاپلوسانو د چاپلوسیو نه په تنګ خو نه دی راغلی بلکی داسی ور سره عادت شویدی چی که هره ورځ د دوی د څُلو نه د ځان په هکله څه داسی خبری چی بواځی خبری دی او هیڅ حقیقت نه لری وا نه وری، نو داسی څُمار وی لکه معتاد شخص ته چی نشه و نه رسیږی. د همدی خبرو په اوریدو سره می و غوښتل چی د چاپلوسی په هکله یو څه لنډه څیړنه وکړم چی دا څنګه عمل دی، د څه د پاره تر سره کیږی او له کومه وخته راهیسی بی رواج میندلی دی؟؟؟

د کیمبریج د انګلیسی ډیکشنری چاپلوسی داسی را پیژنی: «د یوچا دومره د لوړ ښولو عمل ته چی هغومره لوړ نه وی چاپلوسی وای. یا د ریا او یوه هدف د تر لاسه کولو د پاره، په نرمو او ګرمو الفاظو د یو چا هسی تعریف چی د حقیقت سره ورته والی و نه لری چاپلوسی بلله کیږی.» همدا رنګه د چاپلوسی یو بل عام تعریف داسی دی چی «د خپلی ګټی د پاره په درواغو سره د یوچا ستاینه او توصیف کولو ته چاپلوسی وایی»

د چاپلوسی د تاریخ پیژندنه یوه په زړه پوری څیړنه ده چی د تی لرونکو حیواناتو او د انسان ډوله چمپانزیو له زمانی څخه د هالیووډ د ماډرن انسانه پوری را رسیږی. تاسو به لیدلی وی چی چمپانزیانی د نیم نه زیاته ورځ یو د بل په آرایش او پاکولو تیروی، د دوی دی عمل ته د چاپلوسی مفهوم ور کړ شویدی.

مشهور لیکوال او محقق "ریچارد ستینګل" په خپل یوه اثر کی چی د چاپلوسی تاریخچه نومیږی داسی لیکی: «که تاسو داسی فکر کوی چی لومړنی چاپلوس شیطان دی، نو ښکاری چی د چاپلوسی د تاریخ پیژندنی ته ورنژدی شوی یاستی»

نوموړی تر دی خبری وروسته زیاتوی «چاپلوسی یو هسی عادت دی چی د هر انسان د پاره تر یو معینه حده پوری د قبلوني او منني وړ دی، د هر انسان په جینونو کی ځای لری او په زرګونو ډولونه لری.»

- ۱- تر کومه ځایه چی د محققینو د څیړنو نه څرګندیږی، د چاپلوسیو دوه حالتونه نسبت نورو ته زیات رواج لری.
- ۲ـ دا عمل د ټولنیزو او سیاسی دریځونو په لوړو او ټیټو مقامونو پوری ډیره اړه پیدا کوی. ښکته مقامات تل زیار کاږی چی د پورته یا لوړ مقام توجه او پام ځانته را وړوی او داسی وښای چی ګوندی د لوړ مقام لرونکی شخص سره ډیره مینه او پیرزوینه او دوستی لری ،خو په حقیقت کی په همدی توګه غواړی چیورو ورو په خپل موقف کی تغیر راولی او که ممکنه وی د همدی شخص ځای و نسی او لا نور هم اوچت موقف ته ورسیږی.
- ۳ـ د چاپلوسی عمل د مینی په نړی کی هم د پام وړ ځای لری. یوه کیسه داسی راغلی ده چی د امریکا مشهور جمهور رئیس جان اف کنیدی د ځوانی په وخت کی د ژاکلین سره ډیره مینه لروده ، خو هغی ورته ډیره توجه نه کوله، دیوه اروا پوه نه یی پوښتنه وکره چی څه وکړی چی د هغی پام ځانته راواړوی؟ اروا پوه ورته و ویل چی ایا ستا معشوقه کوم وړوکی ورور یا خور یا کوم حیوان لری چی هغی ته ګران وی؟ کنیدی ورته و ویل چی هو، هغه یو وړوکی پاپی لری او هغه ورته ډیر ګران دی. اروا‌پوه ورته و ویل چی بی له دی چی هغی سره مینه وکړی د هغی د پاپی سره مینه وکړه. کنیدی همدا کار وکړ او په هر ځای کی به یی چی هغه ولیده د هغی پاپی ته یی دومره مینه ورکوله چی ژاکلین هغه ته نه وه ورکړی، دی عمل د هغی فکر ته تغیر ورکړ او د ځان سره یی و ویل چی دا هلک چی زما د سپی سره دومره مینه لری نو خدای پوهیږی چی د ماسره به څومره مینه لری؟ هماغه و چی هغه سره ملګری او وروسته یی ورسره واده هم و کړ. ریچارډ وایی چی « چاپلوسی د ټولنیزی ماشنری د پُرزو د غوړولو د پاره د ګریسو او یا نورو غوړو غوندی کار ورکوی او د ورځنی ژوندانه په حالاتو کی تغیر راولی.» زمونږ په پښتو ژبه کی هم د چاپلوسی د پاره یوه داسی کلمه چی د ریچارد خبره تائیدوی کار وله کیږی او (غوړه مالی) ورته وا یی. هغه ادعا کوی چی «له دی کار نه دواړه خواوی هم چاپلوس او هم چاپلوسی قبلونکی خوند اخلی او د آرامی احساس ورته پیدا کیږی.»

چاپلوسان په ډیر مهارت سره د مقتدر شخص په وجود کی د ضعف هغه نقطی تشخیصوی چی په اسانی سره ګټه تری پورته کولی شی. همدارنګه دوی د وخت په پیژندنه او د وخت سره سم د ستاینی په کلماتو او د یادولو په طرز ډیر ښه پوهیږی او دا ښه سنجولی شی چی د کوم ډول تعریف د پاره کومه مناسبه موقع ده.

تیر کال د اسرائیلو صدراعظم نتنیاهو د متحده ایالاتو جمهور رئیس دونالد ټرمپ ته د اسرئیلو هیواد ته د سفر په وخت کی د ارتر جیمز بالفورد ( بالفورد له ۱۹۰۲ م کال څخه تر ۱۹۰۵م کاله پوری د انګلستان صدراعظم چی په ۱۹۱۷ کال یی د فلسطین په خاوره کی د یهودو د مستقل دولت د جوړیدو پلان جوړ کړ او په ۱۹۴۸ م کال کی عملی شو) او د متحده ایالاتو د (۳۳) جمهور رئیس هری ټرومن ( ټرومن د روزویلټ نه وروسته قدرت ته ورسیده او له ۱۹۴۵ م نه تر د ۱۹۵۳ م پوری په قدرت کی و، د همده په پریکړه د انګلستان د پخوانی صدر اعظم الفورد د پلان له مخی د اسرائیلو دولت د فلسین په خاوره کی جوړ شو، همدا سړی د ملګرو ملتو د نړیوالی اداری اساس ګزاردی او همدا سړی د جاپان په هیواد باندی د آتومی بمونو د استعالولو قهرمان دی) د زوړ ورتیا او هوښیاری القاب ور کړل. د اسرائیلو صدراعظم ښاغلی نتنیاهو په دی ډیر ښه پوهیدلی و چی جمهور رئیس دونالد ټرمپ د دی خبری د اوریدو سره څومره مینه لری چی د دنیا د لویو هوښیاروسیاسی څیرو او لکه د بالفورد او ټرومن غوندی د باعزمو انسانانو له جملی څخه و شمیرل شی، نتنیاهو چی د بارک اوباما له اداری څخه یی چندان ښه خاطره نه درلوده په

مناسب وخت کی یی تش د کلمات په استعمال سره د ټرمپ په وجود کی دومره بوس ورتخته کړل چی د اسرائیلو ګټی یی د خپل هیواد ګټی و بللی او بی له دی چی فکر وکړی د بیت المقدس سیمه یی لکه د خپل شخصی ملکیت په څیر اسراییلو ته ور و بخښله.

ماته دا ستره تحفه او دا لوی بخشش له هماغی ماهرانه چاپلوسی نه پرته چی نتنیاهو د امریکا تر ټولو کم فکر جمهور رئیس دونالد ټرمپ ته وکړه او هغه یی د امریکا د تاریخ تر ټول زړور او هوښیار جمهوررئیس و باله، بله هیڅ وجهه سترګو ته نه راځی. کیدای شی زه به سم نه یم پوهیدلی خو تر اوسه لا په همدی نظرپاتی یم.

په لنډه توګه ویلای شو چی چاپلوسی او د چاپلوسانو په غوړو خبرو او مشورو باندی په دی نړی کی ډیری ستری ستونزی منځ ته راغلی او نړی د ډیرو لویو ناورینونو سره مخامخ شویده. هر څوک چی په هر واکمن مقام کی قرار لری، که غواړی چی د تاریخی بدنامی نه ځان وساتی نو تر ټولو له مخه دی د چاپلوسانو د احاطه کیدو نه ځان وژغوری او هغوی ته دی دا موقع نه ورکوی له ده نه د نورو د قضاوت له مخی احمق جوړ کړی.

زمونږ په هیواد کی تر بل هروخت نه اوس دی ته اړتیا لیدله کیږی چی جمهور رئیس اشرف غنی خپله شا وخوا له دی حرفوی چاپلوسانو نه پاکه کړی او پر ځای د هوښتارو اشخاصو د مشورو له مخی خپلو ټولو کارونو ته ځان ورسوی، ځکه چاپلوسان هسی رنځوران دی او معتادین دی چی بی له چاپلوسی ورته د ژوند کول دومره مشکل او سخت دی لکه ماهی چی د اوبو نه د باندی ژوند نشی کولی . که چیری واکمن مقامات دا مفتخواره رنځوران له خپلی حلقی نه و کاږی او په غړولو سترګو کار وکړی نو هم به د دوی سترګی د خپلی ټولنی حقیقی څیره و وینی او هم به په دی د پوهیدو توان تر دلاسه کړی چی دوی تر کومه حده په خپلو ورځنیو کړو کی بریالی او یا وروسته پاتی راغلی دی. او که دا کار ونه کړی نو بیا به دوی هم د پخوانیو واکمانو په څیر تر آخره په دی و نه پوهیږی چی دوی په خپلو کړو وړو کی څومره بریالی وو او څومره ناتوانه وو؟ بلکی لکه د جناب کرزی په څیر به تر آخره دا دعوه کوی چی د تاریخ په ټوله دوره کی ترده موفق واکمن بل نه دی تیر شوی. حال داچی دا ادعا هیڅ حقیقت نه لری. نه یوائځی داچی حقیقت نه لری ډیر څیرونکی په دی نظر دی چی تر جناب کرزی بی کیفایته او بیکاره معامله ګر واکمن تر اوسه دی ملک نه دی لیدلی او د دی ادعا د پاره داسی دلایل هم وړاندی کوی چی انکار تری نه شی کیدلی. پای.

تورنتو – کا نادا. مارچ/ ۲۳/ ۲۰۱۸